دا زما د امت پر نارينه وو حرام دي، د هغوی د ښځينه وو لپاره حلال دي

له علی بن ابی طالب رضي الله عنه څخه روايت دي وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم په چپ لاس کې وريښم او په ښي لاس کې سره زر واخستل، بيا يې لاسونه پورته کړل او ويې ويل: «دا زما د امت پر نارينه وو حرام دي، د هغوی د ښځينه وو لپاره حلال دي».

[صحيح دی] [ابو داود، النسائي او ابن ماجه روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم په چپ لاس د وريښمو جامه يا يوه ټوټه راواخيسته او په ښي لاس يې له زيوراتو څخه سره زر او يا ورته بل څه راواخيستل، بيا يې وفرمايل: وريښم او سره زر چې دي، د نارينه وو لپاره يې اغوستل حرام دي، خو د ښځينه وو لپاره دواړه روا دي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4292